# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Literary-Cultural | ادبی ـ فرهنگی |
| --- | --- |


انجینر داؤد اڅک
۳۰ می ۲۰۲۵

## د پښتو ژبي نړۍ والي ورځي په وياړ

د ژبـو يـوه پـراخـه سلسـله ده
په منځ کي ئې ولاړه پښتنه ده

تولي ژبي په نړۍ کي ښايستې دي
مـورنـۍ ژبـه پـه ټـولـو هـسـتـه ده

ژبي ټولي منظمي راته ښکاري
پښـتـو ليـري د واحدي قاعده ده

ژبـي ټـولـي ادبـي دي او سـايـنـسـي
خو زموږ ژبه په زاړه ادب اخته ده

پښتانه په خوب لاهوغرق افسانو کي
بــډايــه پـښـتـو ګـوره بېچــاره ده

(مـا و نـازولــې مــا وغزولې)
د پښتو ژبي همدغسي کيسه ده

نـه قانـون نه انجمن لري په ټولو
کاروي ئې هر چا خپله سليقه ده

هر يو خپل د انډيوال پر لار روان دی
بـــې سـنــده بــې دلـيـلــه عـلاقــه ده

ټوله ژبي دي خوشحاله له صاحبه
خـو پـښـتـو ده ګيله منده او خپه ده

ټــولـــه ژبـــي دي ګل ســوي خـــو پـښـتـو!
لکه باز په خوله کي ښکار ريښه ريښه ده

۲۹ ــ ۵ ـ ۲۰۲۵